د افغانستان بانک

د پولي سیاست لوی امریت

د پولي سیاست میاشتنی راپور

**د پولي سیاست او مالي چارو د څارنې د شاخصونو تغیراتو ته لنډه کتنه**

**لیندۍ1399**

لړلیک


1.پولي سکتور...................................................................................**Error! Bookmark not defined.**

۱,۲خالصې نړیوالي شتمنۍ.......................................................**Error! Bookmark not defined.**

1.3 د بهرنیو اسعارو او د پانګه ایزو پانو لیلام.................................**Error! Bookmark not defined.**

۱,۴د ټکټاني لګښتونه ...........................................................**Error! Bookmark not defined.**

۱,۵ د تبادلې نرخ.................................................................**Error! Bookmark not defined.**

۳. بهرنی سکتور ........................................................................................................ 17

3.1د جاري حساب بیلانس: ........................................................................................ 17

3.1.1 د توکو د حساب بیلانس: ...................................................................................... 17

۳,۱,۲. د خدماتو د حساب بیلانس: ................................................................................ 18

۳,۱,۳. د لومړنیو عوایدو حساب: .................................................................................. 18

۳,۱,۴. د منځنیو عوایدو حساب:................................................................................... 18

۳,۲. پانګیز حساب بیلانس:......................................................................................... 19

۳,۳ ................................................................................................................... 19

۳,۳,۱ ................................................................................................................ 19

۳,۳,۲ ................................................................................................................ 19

4. مالی سکتور.......................................................................................................... 21

## پولي سکتور

### 1.1د پولي زيرمو او په ګردښت کې د پيسو د ود راپور:

د پولي سیاست آمریت د پیسو غوښتنې اصلي او ګټورلارو ، د دولت مالي پروګرامونو (عوایدو او لګښت) ، اقتصادي ودې لر لید او په هیواد کې د قیمتونو د ټولیزې کچې له لارې د هېواد اقتصادي حالت ته په کتو د هېواد پیسو سیاستونه طرح کوي .

د پولي زیرمو (RM) کره مبلغ د مالي کال ۱۳۹۹ (۲۰۲۰) په پیل کې ۳۲۱،۶۲۸،۹۸ ملیونه افغانۍ ثبت شوی دی ، او د لیندۍ میاشتې په پای کې یې کره مبلغ 352،255.99 ملیون افغانۍ دی چې د مالي کال له پیل څخه تر اوسه بیا 9.68 سلنه وده څرګندوي .

سربیره پردې ، د افغانستان بانک وتوانېدو په بریالیتوب سره په ګردښت کې پیسې (CiC) اداره کړي. د روان مالي کال په پیل کې په ګردښت کې ټولې پیسې ۹۸ , ۳۴۹ ، ۲۵۹ ملیونه افغانۍ وې او د لیندۍ میاشت په پای کې بـیـا 38 . 341 ، 293 ملیونه افغانۍ وې چې13.11 سلنه وده ښیي.

لاندې جدول د مالي کال۱۳۹۹ (۲۰۲۰) په جریان کې RM او CIC ښيي




سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

### 1.2خالصې نړیوالې شتمنۍ

خالصې نړېوالې شتمنۍ(NIR) راټولول، کوم چې د ملی اقتصاد د لوی اقتصادي شاخص په توګه پیژندل کیږي ، د هیواد په مالي سیسټم کې یوه له ترټولو لویه لاسته راوړنه ده. د NIR راټولول پرته له شک څخه د پولي سیاستونو غوره پلي کولو او د د لوی اقتصاد شاخصونو لکه د تبادلې نرخ ، انفلاسیون او تادیاتو بیلانس د تعادل د ثبات ساتلو باندې مخامخ اغیز لري .

د ۱۳۹۹مالي کال (۲۰۲۰) په پيل کې ، د افغانستان NIR کره اندازه 94 ۹ ، ۷ مليونه ډالر ټاکل شوې وه مگر د NIR د بازار په نرخ حقيقي اندازه د ليندۍ په پاى کې ۸،۳۹۹.۲۰ مليون ډالرو ته رسېږي، چې د 403.65 مليون ډالرو زياتوالى ښيي.

د NIR وده په لاندې جدول کې وړاندې کيږي:




سرچينه: دبازار عمليات / د پولي سياست آمريت

## 1.3د بهرنيو اسعارو او د پانګه ايزو پاڼو ليلام

د نغدوالي د کنټرول لپاره ، د ډالرو عرضه کول په اقتصاد کې د افغانۍ د تبادلې د نرخ ډېر بدلون راکموي ، د افغانستان بانک په اونۍ کې درې ځله د ډالرو ليلام او يو ځل د پانګه ايزو پاڼو د ليلام له لارې خپله موخه له نژدې اداره کوي چې دا دوه وسيلې دي او د ازاد بازار عملياتو له لارې عملي کيږي . د تفصيل لپاره هر وسيله په لاندې توضيحې کيږي.

### د بهرنيو اسعارو ليلام

د ۱۳۹۹(۲۰۲۰) مالي کال له پيل راهيسې د ليندۍ تر پاى پورې ، د افغانستان بانک د آزاد بازار د عملياتو له لارې ټول ټال ۲،۱۲۷.۴۲ مليونه امريکايي ډالر ليلام کړي او له بازار څخه يې 42 . 163 مليارده افغانۍ راټولې کړي دي. د آزاد بازار په عملياتو کې د اسعارو (په ځانګړې توګه د متحده ايالاتو ډالر) د ټول غوښتنې 15 . 29 سلنه پوره کړې. په 1399 مالي کال کې د افغانستان بانک له تجارتي بانکونو له لارې 254 مليونه ډالر د افغانستان برېښنا شرکت باندې پلورلي دي او په مقابل کې يې 19.52 مليارده افغانۍ را ټولې کړې.

اندې جدول د تيرو ۱۲ کلونو په جريان کې د بهرني اسعارو غوښتنې او عرضه ښيي.




سرچينه: د بازار عمليات / د پولي سياست آمريت

## د پانګه ایزو پاڼو لیلام

د افغانستان بانک په بازار کې د نغدوالي د کنټرول،د بانکوالۍ سکتور کې د اضافه نغدوالي مخنوی، د تضمينونو لپاره منځني بازارونه رامينځته کول، د تبادلې په نرخ کې د ثبات ساتلو ، د پولي سياست وسايلو ډيربښت رامينځته کول ، او سوداګريز بانکونه هڅول څوځپلې ټولې چارې په افغانيو ترسره کړي نو د افغانستان بانک په همدې موخه د پانګه ایزو پاڼو له ليلام څخه کار اخلي .

د ۱۳۹۹(۲۰۲۰) مالي کال له پيل څخه د لیندۍ د مياشتې تر پايه پورې ، د پانګه ایز پاڼو نه ترلاسه شوې ونډه 46.40 مليارده افغانيو ته رسيدلي او په عين حال کې د ياد شوي پاڼو ټولټال سود د دې مياشتې په پای کې 655.17 مليونه افغانيو ته رسيدلی.

لاندې شکل د مالي کال ۱۳۹۹(۲۰۲۰) د لیندۍ میاشتې تر پای پورې د 9 کلونو په جریان کې د پانګه ایز پاڼو نه ترلاسه شوې ونډه روښانه کوي.




سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

## ۷ ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې

د لیندۍ میاشتې په پای کې د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام د 0.85سلنه منځنې سود سره 3.7 ملیارده افغانیو ته رسیدلې. نه ترلاسه شوې برخې د دې مودې لپاره 3.7 ملیارده افغانۍ دې.




سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

## ۲۸ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې

د ارزول شوې مودې په جریان کې ، د لیندۍ میاشتې په پای کې د ۲۸ ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې لیلام په اوسط ډول د 1.23 سلنه سود او2.2 ملیارده افغانیوپه ارزښت وړاندې شوې دي اوټولټال نه ترلاسه شوې ونډه 6.81 ملیارده افغانۍ ثبت شوې.




سرچینه: د بازار عملیات / پولې سیاست آمریت

## ۹۱ ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې

د دې راپور ورکولو په جریان کې د ۹۱ ورځو لپاره د پاڼو لیلام 0.2 ملیارده افغانۍ شوی دی او د لیندۍ اوسط ټکټانه 51 . ۱ سلنې وه او ټولټال نه ترلاسه شوې ونډه 2.65 ملیارده افغانیو ته رسېدلې.




سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

## ۱۸۲ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې

د دې راپور چمتوکولو د مودې په جریان کې د افغانستان بانک د ۱۸۲ ورځو لپاره د پاڼو لیلام د لیندۍ په میاشت کې 0.3 ملیارده او اوسط سود د 1.79 سلنې و او نه ترلاسه شوي ونډه یې 3.34 ملیارده افغانیو ته رسېدلې.




سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

## ۳۶۴ ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې

د دې راپور ورکولو په جریان کې د افغانستان بانک د ۳۶۴ ورځو لپاره د پاڼو لیلام د لیندۍ میاشتې په پای کې 1.69ملیارده افغانۍ وې چې منځنې ډول د 3.73 سلنه سود او او نه ترلاسه شوې ونډه یې 29.89 ملیارده افغانیو ته رسېدلې.




سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

### 1.4 د ټکټاني لګښتونه

د افغانستان بانک د تیرو 11 کلونو په جریان کې د مالي کال ۱۳۹۹ (۲۰۲۰) د لیندۍ میاشتې پورې د پانکه ایز پاڼو لپاره ټکټاني تادیه کړې دي چې ارقام یې په لاندې ډول ښودل شوي دي.




## 1.5د تبادلي نرخ

مرکزي بانک په بازار کې د اسعارو نرخ نه په نښه کوي. په هرصورت ، په نورو لوی اقتصادي شاخصونو د دې د پام وړ اغیزو په پام کې نیولو سره ، د افغانستان بانک د تبادلې نرخ چلند له نږدې څاري ترڅو د دې شدید بدلونونو مخه ونیسي. د معلوماتو ته په کتو ، د افغانیو تبادلې نرخ د نړۍ د مهمو اسعارو په وړاندې یو څه بدلونونه ثبت کړي دي.

د۱۳۹۹ مالي کال له پیل راهیسې افغانۍ د 1.69 سلنه ارزښت له مخې لوړوالی ښودلی دی ، او په منځني ډول ډالر په 76.80 افغانۍ تبادله شوې او د لیندۍ په پای کې په 77.11 تبادله شوې.



**د پولي شاخصونو جدول**

| | 1398 مالي کال | | | | | 1399 مالي کال | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | کب | غبرگولی | وری | لړم | لیندۍ | کب | غبرگولی | وری | لړم | لیندۍ |
| د پولي زیرمو ټاکلی هدف(٪) | 12 | | | | | 12 | | | | |
| د پولی زیرمو حقیقي وده(٪) | -5.60 | -4.5 | 1.19 | 2.2 | 12 | -8.00 | 0.42 | 1.82 | 1.23 | 9.68 |
| د پولی زیرمو حقیقي وده(میلون افغانۍ) | 255,627.49 | 259,654.32 | 275,042.98 | 294,628.03 | 304,625.71 | 295,224.52 | 322978.27 | 327473.80 | 325592.30 | 352755.78 |
| د پولي زیرمو ټاکلې موخه ( میلون افغانۍ) | 280,267.14 | 305,491.17 | 314,327.17 | 20,027.82 | 322,878.14 | 331,039.94 | 340873.85 | 350707.77 | 357535.12 | 360867.72 |
| گردښت کې پیسو حقیقی وده ( میلون افغانۍ) | 222,147.20 | 231,598.67 | 244,489.52 | 55,165.73 | 259,350.77 | 259,302.12 | 279,989.89 | 283,438.22 | 285,992.98 | 293,341.38 |
| د گردښت پیسو ټاکلې موخه ( میلون افغانۍ) | 233,785.34 | 241,897.91 | 248,894.55 | 253,408.50 | 255,665.48 | 266,938.63 | 274,868.34 | 282,798.06 | 294,236.46 | 297,474.43 |
| په نړیوالو زیرمو کې حقیقي وده (ملیونونه ډالر) | 7,702.51 | 7,691.22 | 7,868.70 | 7,978.50 | 7,873.60 | 7,711.85 | 8,128.78 | 8,334.40 | 8,097.45 | 8,398.11 |
| په نړیوالو زیرمو کې ټاکلې موخه (ملیونونه ډالر) | 7,684.13 | 7,708.58 | 7,708.58 | 7,708.58 | 7,708.58 | 7,846.07 | 7,919.41 | 7,919.41 | 7,833.74 | 7,819.00 |
| د پانگه ایز پانړو ناترلاسه شوې برخه | 26,665 | 27,020 | 23,920 | 23,075.0 | 24,905.00 | 30,455 | 34,495 | 39,590 | 41,110 | 46,400 |
| اجباري زېرمې (لازمي زېرمې) مليونونه افغانۍ | 5,768.54 | 10,923.40 | 2,657.34 | 5,442.18 | 5,734.43 | 5,928.75 | 6,271.67 | 6,914.36 | 7,118.90 | 7,314.98 |

## 2. حقیقی سکتور

### د پیسو تولیز پړسوب دکلنۍ محاسبې پر بنسټ لړم میاشت کې زیاتوالی ښکاره کوي.

د پیسو تولیز پړسوب  کچه د 1399لمریز لیږدیز کال دکلنیبدلونونو پر بنسټ دلړم په میاشت کې زیاتوالیکړی دی. دمصرفي توکو تولیز  پیسو پړسوب له 5.99 سلنې 6.43سلنې پورې زیاتوالیځرگندوي. دا زیاتوالی دخوراکي  او غیرِ خوراکي توکو دقیمتونو دزیاتوالی نه سرچینه اخیستې ده،  چې تولیز شاخص یې تر اغیزې لاندې نیولی دی.

**1-جدول عمومی پړسوب د هیوادپه کچه**

| دپیسو پړسوب د هیواد په کچه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| توکي | کلنی بدلون | | میاشتینی بدلون | |
| | تله 1399 | لړم1399 | تله 1399 | لړم1399 |
| **تولیز پړسوب** | **5.99** | **6.43** | **0.52** | **1.17** |
| خوراکي توکي او غیر الکولي ځنباک | 9.75 | 9.92 | 0.50 | 1.30 |
| غیري خوراکي توکي ،تنباکو او چوپړتیاوې | 2.42 | 3.07 | 0.55 | 1.03 |

او له بلې خوا، څرنگه چې  دمیاشتیني محاسبې پر بنست چې توپیرونه په لندمهاله توگه د ځیړنې لاندې نیول کیږي اوپه لنډ مهاله توگه بدلونونه ځیرې د دې محاسبې پر اساس له 0.52سلنې څخه تر1.17سلنې پورې دلړم په میاشت کې زیات شوی ده.

### دخوراکي توکو شاخص دکلنۍ بدلون پر بنسټ د جگ قیمتونو   ښکارندوی دی.

د احصائې او معلو ماتو ملي اداري د وروستیو ارقامو د لاس ته راوړلو  پر اساس دکلني محاسبې پر بنسټ د خوراکي توکو قیمت له 9.75 سلنې  نه 9.92سلنې  پورې  زیاتوالی ځرگندوي . د دې زیاتوالی اصلي لامل د(  شیدی،پنیر هگۍ،وچې او تازه میوې ،سابه اوخواږه) دقیمتونو جگوالیدی.

## د خوراکي توکي شاخص د میاشتیني محاسبې پر بنسټ لړم په میاشت کې هم زیاتوالی ښکاره کوي

د خوراکي توکو شاخص په برخه کې دمیا شتیني بدلون معیار پربنسټ دلړمپه میا شت کې 1.30 سلنې ته رسیدلی دی، حال دا چې دا رقم په تیره میا شت کې 0.50 سلنه سنجش شوی وو. دازیاتوالی دخوراکي تو کو اجزاوو لکه (غله او دانه ، غوړي ، وچې او تازه میوې ، اوخواړه) دقیمتونو له امله را منځ ته شوی دی.

| 2-جدول :خوراکي توکي د پیسو پړسوب | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| توکي | ونډه (٪) | کلنی بدلون | | میاشتنی بدلون | |
| | | تله1399 | لړم1399 | تله1399 | لړم1399 |
| خوراکي توکو پړسوب او غیري الکولي څښاک | **47.8** | 9.75 | 9.92 | 0.50 | 1.30 |
| ډوډي اوړه غلې داني | **14.6** | 12.43 | 10.93 | -1.54 | -0.05 |
| غوښه | **7.5** | 10.96 | 10.56 | 0.67 | -0.24 |
| لبنیات(شیدی،پنیر،هگی) | **4.7** | 3.30 | 4.29 | 1.15 | 1.05 |
| غوړي | **4.6** | 11.98 | 11.62 | -2.39 | -0.51 |
| وچه او تازه میوه | **5.0** | 10.52 | 14.25 | -1.65 | 4.25 |
| سابه | **6.0** | 11.97 | 13.75 | 11.00 | 6.83 |
| خواړه | **2.7** | 3.74 | 5.77 | -0.98 | 1.06 |
| مصاله | **1.3** | -2.47 | -4.98 | 3.08 | 1.12 |
| غیري الکولي څښاک | **1.4** | 3.54 | 2.93 | 0.25 | -0.64 |

د کلني محاسبې پر بنسټ **دلبنیاتو :(شیدي،پنیراو دچرگانو دهگی)** قیمت چې دمصرفي توکو ټولیز شاخص 4.7سلنه جوړوي د کلني محاسبې پر بنسټ له3.30سلنې تر 4.29 سلنې پورې د خیړنې په موده کې زیاتوالی موندلی دی .

او همدا راز د میاشتیني محاسبې پر بنسټ د دې برخې شاخص له 1.15سلنې تر 1.05 سلنې پورې کموالی کړی دی. یو له اصلي دلایلو څخه دا دی چې په عمومي ډول سړه هوا کې د هگیو پیرود لولپاره غوښتنه مخ په ډېریدو ده . او ددې لامل گرځي دې شاخص باندې مستقیم اغېزه وکړي .

**دسابو** قیمت  هم د لړم په میاشت کې  زیاتشویده . دا برخه په ټولیز شاخص کې6.0سلنه وزن (ونډه) لري.

او کولای شي هر بدلون په دې برخه کې د پیسو ټولیز پړسوب تر اغیزې لاندې ونیسي .ددې برخې قیمت د کلنۍمحاسبې پر بنسټ له 11.97 سلنېتر 13.75 سلنې پورې د  لړمپه میا شت کې  زیاتوالی موندلی دی.او همدا راز دمیا شتني محا سبې پر بنسټ ددې  شاخص قیمت  له 11.00 سلنې نه تر6.83  سلنې پورې کمه  شوی ده. ددې  شاخص دبیې زیاتوالی یو له ا صلي دلایلو څخه موسومي اغیزې دي، معمولاً مني موسم په لړ کې ددې  شاخص بیه لوړیږي . همدا رنګه ډېری  سړې خونې د کار  پیل ،کو م چې د ذخیره کولو ظرفیت لري  او په بازار کې ددې موسم په لړ کې ددې لامل ګرځېدلي دي چې  یاد  شوي توکي په بازار کې په ارزانه بیه و نه پلورل شي.

**خواړه**  چې په عمومي  شاخص کې  2.7 سلنه ونډه لري ،له 3.74  سلنېتر 5.77 سلنې پورې د لړم په میا شت کې زیاتوالي کړی دی. او د میا شتیني محا سبې پر ا ساس ددې  شاخص قیمت  له 0.98- سلنې تر 1.06 سلنې پورې  زیاتوالی موندلي دی.په دې  شاخص کې د نرخ لوړیدو اصلي لامل نړیوال بازار نرخونه دي،چې د لړم په میاشت کې د بورې نرخ دتیر کال ورته میاشتی په پرتله 3.33 سلنه کې لوړ شوی دی

**3-جدول:غیري خوراکي توکو پړسوب**

| اقلام | ونډه (٪) | کلنی بدلون | | میاشتیني بدلون | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | تله 1399 | لړم1399 | تله 1399 | لړم1399 |
| غیري خوراکي توکي تنباکو او چوپړتیاوې | **52.2** | 2.42 | 3.07 | 0.55 | 1.03 |
| سګرت او تنباکو | **0.3** | 3.11 | 4.50 | 0.00 | 0.68 |
| جامې | **4.6** | 8.64 | 8.72 | 1.47 | 2.15 |
| استوګن ځای | **19.1** | 0.56 | 2.26 | 0.87 | 1.77 |
| دکور سامانونه | **11.9** | 4.30 | 4.92 | 0.08 | 0.61 |
| روغتیا | **6.2** | 7.42 | 7.19 | -0.06 | 0.41 |
| ترانسپورت | **4.3** | -12.22 | -13.01 | 0.38 | -0.74 |
| مخابرات | **1.7** | -0.33 | 0.20 | 0.37 | 0.39 |
| اطلاعات و فرهنګ | **1.1** | 3.46 | 2.14 | 0.59 | 1.18 |
| ښوونه او روزنه | **0.4** | 5.29 | 7.02 | 1.47 | 0.73 |
| هوټل او رستورانت | **1.1** | 2.22 | -0.35 | 0.06 | -0.23 |
| متفرقه | **1.4** | 9.52 | 10.52 | 0.78 | 0.44 |

## غېرې خوراکي توکي کلني-پړسوب دلړم په میاشت کې زیاتوالی کړی دی.

**غېرې خوراکي**توکو شاخص چې د ټولیز شاخص 52.2 سلنه جوړوید۱۳۹۹لمریز لیږدیز کال د لړم میاشت کې بدلون راغلی دی او 3.07سلنېته رسیدلی دی حال دا چې دا رقم په تېره میاشت کې2.42سلنه سنجش شوی وو. او د دې زیاتوالی لامل( تنباکو،جامې ، کور،دکور سامانونه ، مخابرات او متفرقه) دبیې زیاتیدل ګڼل کېږي.

دمیاشتیني محاسبې پر بنسټ ددغې برخې شاخص له 0.55سلنه دتلې په میاشت کې تر 1.03سلنې پورې دلړم میاشت کې زیاتوالی کړی دی .

**کور،اوبو ،بریښنااو ګاز** 19.1 سلنه په ټولیز شاخص کې ونډه لري ، دکلني محاسبې پر بنسټ له 0.56سلنېتر 2.26سلنې پورې د 1399کال دلړم پهمیاشت کې زیاتوالی ښکاره کوي .لکه څرنګه چې ګورو د دې برخې ونډه په ټولیز شاخص کې زیاته ده له همدې کبله دی چې هر بدلون په دې برخه کې په ټولیز شاخص باندې ډېره اغیزه لري ،له بلې خوا د میاشتیني محاسبې پر اساس د دې شاخص قیمت د لړم پهمیاشت کې تر1.77 سلنې پورې رسیدلی ده. حال دا چې ددې شاخص قیمت پهتېره میاشت کې 0.87سلنه سنجش شوی وه.په هېواد کې د بریښنا ضعیفه خدماتو له امله ،او د ګاز ،لرګیو او نورو د سوند توکو لپاره د سړې هوا له وجې نه د غوښتنې زیاتوالي ، او همدا رنګه د ناامنو ولایاتو نه د کډ والو راتګ پلازمینې (کابل) ته ، چې دکورونو کرایې زیاتوالي لامل ګر ځېدلي دی. دا هغه دلیلونه دي چې ددغې شاخص بیه یې تر اغیزې لاندې نیولې دی.

**دکور سامانونه** چې 11.9 سلنه په ټولیز شاخص کې ونډه لري د تلې په میاشت کې له 4.30سلنې تر4.92سلنې پورې دلړم په میاشت کی زیاتوالی موندلی دی او د میاشتیني محاسبې پر بنسټ له 0.08سلنه تر 0.61سلنې پورې دلړم په میاشت کې زیاتشوی.

د کور نیو توکو ډیری برخه د ګاونډیو هېوادونو څخه په ځانګړي توګه له ایران او پاکستان هېوادونو څخه واردیږي او د خامو توکو د بیی د لوړوالي له امله په ایران هېواد کې د کورنیو توکو بیه لوړه شوې ، چې د یاد شوي شاخص نرخ یې لوړ کړي دی. همدا رنګه

زمونږ دهیواد سوداګرۍ اړیکې د چین ،هند او ایران هېوادونو سره د ددې مودې په لړ کې کمه شوی ، چې ددې نرخ شاخص د زیاتوالي تر شاه مهم فاکتور ګڼل کیږي.

د **ښوونې او روزنې** شاخص د کلني محاسبې پر بنسټ چې له 5.29سلنهد تلې په میاشت کې تر 7.02سلنه پورې د څیړنې په دوره کې زیاتوالی کړی دی. او همدا راز دمیاشتیني محاسبې پراساس دا شاخص له1.47سلنې تر0.73سلنې پورې کمښت څرګندوي

انګلیسی او ساینسي مضامینو ته په کورسونو کې د غوښتنې زیاتوالی د ذکر شوي شاخص په فیس کې زیاتوالی ددې لامل ګرځېدلی چې ددې شاخص بیه تراغیزې لاندې ونیسي .

## دهستې انفلاسیون (اصلي انفلاسیون)

په هېواد کې د هستې انفلاسیون کچه د د افغانستان بانک د پالیسو اغیزمنتیا د قیمتونو ټولیزې کچې کچې باندې د کنترول ښکارندویي کوي. د دې معیار پربنسټ، د انفلاسیون د کچه بدلونونه چې غیر عادي عوامل لري او د کنترول هم بهر دي، په شاخص کې په پام کې نه نیول کېږي د انفلاسیون دکچی زیاته برخه د فصلي بدلونونو او کله ناکله د غیري عادي پیښو له امله اغیزمن کیږي. استفاده کیږی . په دغه کړنلاره کې هغه اجزاوی چې په غېرر عادي توګه قیمت یې بدلون مومي په شاخص کې ترنظر لاندې نه نیول کیږي تر څو پوربېه ټولیز شاخص باندې یې د اغیزې نه مخنیوی وشي .

د هستې انفلاسیون د معلومولو له معیارونو څخه یو یې هم د اوسط لنډیز (Trimmed Mean%30 ) دی. دغه معیار یو مشخصه برخه په نظر کې نیسي او د ساده لنډیز شاخص په اساس وروسته له نظر لاندې اجزاوې تر لرې کولو وروسته محاسبه کیږي . د دې معیار په اساس پیسو پړسوب د 1399لمریز لیږدیز کال دتلې پهمیاشت کې له 5.47سلنې تر 5.85 سلنې پوربدلړم په میاشت کې کم شوی دی.

بل معیار د هستې تورم عبارت دی له**لګښتي توکو شاخص بې د ډوډۍ ،غوړي او ترانسپورت** څخه . چې پیسو پړسوب د دې معیار په اساس 6.30سلنې ته د لړم په میاشت کې رسیدلی دی حال دا چې دا رقم پهتېره میاشت کې5.39سلنه سنجش شوی وو. د دې معیار له مخې د میاشتیني محاسبې پر بسټ له 1.16سلنې تر1.61سلنې پورې زیاتوالیښکاره کوي.

| دهیواد په کچه د هستې پړسوب بدلون | | |
|---|---|---|
| توکي | تله | لړم |
| | کلنی بدلون پر بنسټ | |
| پیسو پړسوب د خلاصه شوي اوسط (۳۰٪)(لنډیز (Trimmed mean | 5.47 | 5.85 |
| ټولیز شاخص د استوګن ځایونو،غلو دانو ،غوړیو او ټرانسپورټ څخه پرته . | 5.39 | 6.30 |

## ۳. بهرنی سکتور

### 3.1د جاري حساب بیلانس:

د راټول شویو ارقامو له مخې ،د هیواد د تادیاتو د بیلانس د جاري حساب کسر د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزه کې، د تیر کال د دریمه څلوریزې په پرتله کمښت پیدا کړی دی. د ۱۳۹۸ لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزه کې د جاري حساب کسر تقریبا ۱۰۲۸٫۳۸ میلونه ډالره ثبت شوی وو،او د ۱۳۹۹ لمریز کال په دریمه څلوریزه کې ۸۹۳٫۵۱ میلونونه ډالرو ته راښکته شویدی، چې ۱۳ سلنه کمښت څرګندوي . د دې کسر د کمښت سبب، د نړیوالو په وړیا مرستو کی د ډیربښت، د خصوصی افرادو د پیشو په رالیږد کی ډیربښت او همدا رانګه په خدماتي عوایدو کې د زیاتوالی پایله ده .

### 3.1.1 د توکو د حساب بیلانس:

د رارسیدلو ارقامو له مخی د هیواد د توکو د حساب کسر د روان لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزه کی د تیرلمریز لیږدیز کال د دریمه څلوریزی په پرتله ۲۵ سلنه زیاتوالی راغلی. چی له ۱۳۸۲٫۴۲ میلونو ډالور څخه چی د تیر کال په دریمه څلوریزی کی ثبت شوی وه د روان لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزی کی ۱۷۲۵٫۳۷ ته رسیدلی دی.

په ټوله کې د توکو واردات د روان لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزه کې د ۱۳۹۸ لمریز لیږدیز کال د دریمه څلوریزې په پرتله ۲۱ سلنه زیاتوالی څرګندوي. چې له ۱۵۹۱٫۲۰ میلونو ډالرو څخه چی د تیر کال په دریمه څلوریزه کې ثبت شوی وو، په روان لمریز لیږدیز کال کې ۱۹۲۳٫۷۹ میلونه ډالره په ثبت رسیدلي دي .په همدې ډول د توکو په ټولیزو صادراتو کې د تیر لمریز

لیږدیز کال د دریمی څلوریزې په پرتله ۵ سلنه کمښت څرګندوي چې تیر کال په دریمه څلوریزه کې ۲۰۸,۷۷ میلونه ډالر ثبت شوي و او د روان لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزه کې ۱۹۸,۴۲ میلونه ډالره ثبت شوی .

### ۳,۱,۲. د خدماتو د حساب بیلانس:

د روان لمریز لیږدیز (1399)کال په دریمه څلوریزه کې د خدماتو بیلانس کسر کې ۳۰ سلنه کموالی راغلی دی. چې د تیر لمریز لیږدیز (1398)کال په دریمه څلوریزه کې ۱۸۵,۵۹ میلونه ډالره ثبت شوي و او د روان لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزه کې بیا دا ۱۲۹,۶۱ میلونه ډالره ثبت شوي دي

### ۳,۱,۳. د لومړنیو عوایدو حساب:

د لومړنیو عوایدو د حساب ټول خالص عواید د روان لمریز لیږدیز (۱۳۹۹) کال په دریمه څلوریزه کې ،د تیر لمریز لیږدیز کال ۱۳۹۸ د دریمی څلوریزی په پرتله ۱۴ سلنه کمښت څرګندوی. چې داکمښت له ۷۵,۷۹ میلنونو ډالرو څخه ۶۵,۳۵ میلنونو ډالرو ته رسیدلی دی .

### ۳,۱,۴. د منځنیو عوایدو حساب:

دمنځنیو عایدو حساب (بلا عوضه مرستو او د کارګرو رالیږدونکي پیسې دي ) د روان لمریز لیږدیز(۱۳۹۹) کال په دریمه څلوریزه کې د تیر لمریز لیږدیز (۱۳۹۸) کال د دریمی څلوریزې په پرتله په کې ۱۱۰ سلنه زیاتوالی راغلی دی چې له ۳۴۱,۲۷ میلونو ډالرو څخه ۷۱۷,۵۷ میلونو ډالرو ته زیات شوي دي .

- **جاري لیږدونې(بلاعوضه مرستې** ): د روان لمریز کال په دریمه څلوریزه کی د افغانستان دولت ته په خالصو جاري لیږدونو کې تقریباً ۱۵۱ سلنه زیاتوالی راغلی ، چې له ۲۳۳,۱ میلونو ډالرو څخه تقریباً ۵۸۶ میلونو ډالرو ته زیات شوی دی.
- **. د خصوصي اشخاصو لیږدونې** : د روان لمریزی کال په دریمه څلوریزه کی له بهر څخه د خصوصي (انفرادي ) اشخاصو د پیسو لیږد د تیر لمریز کال د دریمی څلوریزی په پرتله تقریباً ۲۴ سلنه زیاتوالی راغلی. د رارسیدلو ارقامو له مخی د انفرادی اشخاصو د پیسو لیږد د روان لمریز کال په دریمه څلوریزه کی تقریباً ۱۴۳ میلونه ډالر ثبت شوی دی، حالانکه دا مقدار د تیر کال په عین دوره کی تقریباً ۱۷۷ میلونه ډالره راپور ورکول شوی وه.

**۳.۲پانګیز حساب بیلانس:** د تادیاتو بیلانس پانګیز حساب د روان لمریز کال په دریمه څلوریزه کی د تیر کال د دریمه څلوریزی په پرتله ۷۲ سلنه کمښت راغلی ده ،چې له ۳۹۱٫۵۷ میلونو ډالرو څخه چی د تیر لمریز کال په دریمه څلوریزه کی ثبت شوی وه د روان لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزه کې ۱۰۹٫۵۳ میلونه ډالرو ته رسیدلی دی.

**۳,۳ د تادیاتو د بیلانس مالي حساب:** مالي حساب د تادیاتو له مخامخ پانګونې ،ارزښت لرونکو پانو کې پانګونه او یو شمیر نور مهمو برخو لکه اسعاري زیرمو څخه جوړ دی .

۳,۳,۱ مخامخ بهرنی پانګونه : د ارقامو له مخی د روان لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزه کی مخامخ بهرنی پانګونه مخ په پورته میلان ښودلی دی. چی له ۴,۸۶ میلونو ډالرو څخه چی د تیر لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزی کی ثبت شوی وه د روان لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزی کی ۱۰ میلونو ډالرو ته رسیدلی دی.

۳,۳,۲ په ارزښت لرونکو پاڼو کې پانګونه : په ارزښت لرونکو پاڼو کې پانګونه د (۱۳۹۸) لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزه کې ۳۳,۷۴-میلونه ډالره وه، د روان لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزه کې دا پانګونه ۸۳,۱۱ میلونو ډالرو ته زیاته شوې ده .

**جدول.۱ : د افغانستان د تادیاتو بیلانس په (میلیون امریکایي ډالرو)**

| ارقام/دوره | دویمه ځلوریزه ۱۳۹۸ | دریمه ځلوریزه ۱۳۹۸ | څلورمه ځلوریزه ۱۳۹۸ | لومړی ځلوریزه ۱۳۹۹ | دویمه ځلوریزه ۱۳۹۹ | دریمه ځلوریزه ۱۳۹۹ | په سلنه کی تغیر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| جاری حساب | -۷۷۸٫۳ | -۱۰۲۸٫۳۸ | -۷۰۸٫۳۵ | -۹۴۶٫۴۲ | -۴۱۴٫۳۳ | -۸۹۳٫۵۱ | -۰٫۱۳ |
| کریډت | ۱۰۱۳٫۸۶ | ۸۵۱٫۶۴ | ۱۲۸۰٫۴۶ | ۸۱۵٫۵ | ۸۵۷٫۱۶ | ۱۲۶۱٫۷۲ | ۰٫۴۸ |
| ډیبټ | ۱۷۹۲٫۱۶ | ۱۸۸۰٫۰۲ | ۱۹۸۸٫۸۱ | ۱۷۶۱٫۹۲ | ۱۲۷۱٫۵ | ۲۱۵۵٫۲۲ | ۰٫۱۵ |
| د توکو او خدماتوحساب | -۱۴۲۷٫۲۲ | -۱۴۳۸٫۵ | -۱۳۶۸٫۸۵ | -۱۲۵۰٫۱۲ | -۱۰۴۱٫۵۹ | -۱۶۶۲٫۶۱ | ۰٫۱۶ |
| کریدت | ۲۸۳٫۹ | ۳۴۴٫۶۴ | ۵۱۶٫۷۳ | ۳۹۹٫۷۳ | ۱۴۶٫۶۳ | ۳۸۰٫۲۴ | ۰٫۱ |
| دبت | ۱۷۱۱٫۱۲ | ۱۷۸۳٫۱۴ | ۱۸۸۵٫۵۷ | ۱۶۴۹٫۸۵ | ۱۱۸۸٫۲۲ | ۲۰۴۲٫۸۵ | ۰٫۱۵ |
| د توکو حساب | -۱۳۲۳٫۰۵ | -۱۲۵۲٫۹۱ | -۱۲۵۹٫۶۳ | -۱۱۷۷٫۴۳ | -۹۶۰٫۸۹ | -۱۵۳۳. | ۰٫۲۲ |
| کریدت | ۱۴۳٫۲۹ | ۲۰۸٫۷۷ | ۳۲۹٫۲۱ | ۲۰۳٫۶۴ | ۳۲. | ۱۹۸٫۴۲ | -۰٫۰۵ |
| دبت | ۱۴۶۶٫۳۴ | ۱۴۶۱٫۶۷ | ۱۵۸۸٫۸۴ | ۱۳۸۱٫۰۷ | ۹۹۲٫۸۹ | ۱۷۳۱٫۴۲ | ۰٫۱۸ |
| دخدماتو حساب | -۱۰۴٫۱۷ | -۱۸۵٫۵۹ | -۱۰۹٫۲۲ | -۷۲٫۶۹ | -۸۰٫۷ | -۱۲۹٫۶۱ | -۰٫۳ |
| کریدت | ۱۴۰٫۶۱ | ۱۳۵٫۸۷ | ۱۸۷٫۵۲ | ۱۹۶٫۰۹ | ۱۱۴٫۶۳ | ۱۸۱٫۸۲ | ۰٫۳۴ |
| دبت | ۲۴۴٫۷۸ | ۳۲۱٫۴۷ | ۲۹۶٫۷۴ | ۲۶۸٫۷۸ | ۱۹۵٫۳۳ | ۳۱۱٫۴۴ | -۰٫۰۳ |
| د لومړنیو عوایدو حساب | ۱۰۱٫۰۸ | ۶۸٫۸۴ | ۶۱٫۰۷ | ۶۳٫۰۸ | ۳۰٫۲۱ | ۵۱٫۵۳ | -۰٫۲۵ |
| کریدت | ۱۱۱٫۹۸ | ۷۵٫۷۹ | ۷۱٫۴۸ | ۷۴٫۸۹ | ۴۲٫۱۳ | ۶۵٫۳۵ | -۰٫۱۴ |
| دبت | ۱۰٫۸۹ | ۶٫۹۵ | ۱۰٫۴ | ۱۱٫۸۲ | ۱۱٫۹۲ | ۱۳٫۸۱ | ۰٫۹۹ |
| د منځنیو عوایدو حساب | ۵۴۷٫۸۳ | ۳۴۱٫۲۷ | ۵۹۹٫۴۳ | ۲۴۰٫۶۲ | ۵۹۷٫۰۴ | ۷۱۷٫۵۷ | ۱٫۱ |
| کریدت | ۶۱۷٫۹۹ | ۴۳۱٫۲۱ | ۶۹۲٫۲۶ | ۳۴۰٫۸۸ | ۶۶۸٫۴ | ۸۱۶٫۱۲ | ۰٫۸۹ |
| دبت | ۷۰٫۱۵ | ۸۹٫۹۳ | ۹۲٫۸۳ | ۱۰۰٫۲۶ | ۷۱٫۳۶ | ۹۸٫۵۵ | ۰٫۱ |
| جاری لیږدونی (رسمی مرستی) | ۴۳۲٫۹۱ | ۲۳۳٫۱۳ | ۴۹۷٫۷۵ | ۱۷۷٫۳۸ | ۵۱۳٫۶۶ | ۵۸۵٫۷۴ | ۱٫۵۱ |
| کریدت | ۴۳۲٫۹۱ | ۲۳۳٫۱۳ | ۴۹۷٫۷۵ | ۱۷۷٫۳۸ | ۵۱۳٫۶۶ | ۵۸۵٫۷۴ | ۱٫۵۱ |
| دبت | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | |
| خصوصی لیږدونی | ۱۴۵٫۳۶ | ۱۴۲٫۵۱ | ۱۳۹٫۸۷ | ۹۵٫۹۱ | ۱۰۷٫۷۱ | ۱۷۶٫۷۴ | ۰٫۲۴ |
| کریدت | ۱۸۵٫۰۸ | ۱۹۸٫۰۸ | ۱۹۴٫۵۱ | ۱۶۳٫۵ | ۱۵۴٫۷۵ | ۲۳۰٫۳۸ | ۰٫۱۶ |
| دبت | ۳۹٫۷۲ | ۵۵٫۵۷ | ۵۴٫۶۴ | ۶۷٫۵۹ | ۴۷٫۰۴ | ۵۳٫۶۴ | -۰٫۰۳ |
| پانګیز حساب | ۲۴۱٫۵۷ | ۳۹۱٫۵۷ | ۵۰۴٫۶۸ | ۴۸٫۲۱ | ۱۰۷٫۱۷ | ۱۰۹٫۵۳ | -۰٫۷۲ |
| کریدت | ۲۴۱٫۵۷ | ۳۹۱٫۵۷ | ۵۰۴٫۶۸ | ۴۸٫۲۱ | ۱۰۷٫۱۷ | ۱۰۹٫۵۳ | -۰٫۷۲ |
| دبت | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | |
| پانګیزی لیږدونی | ۲۴۱٫۵۷ | ۳۹۱٫۵۷ | ۵۰۴٫۶۸ | ۴۸٫۲۱ | ۱۰۷٫۱۷ | ۱۰۹٫۵۳ | -۰٫۷۲ |
| کریدت | ۲۴۱٫۵۷ | ۳۹۱٫۵۷ | ۵۰۴٫۶۸ | ۴۸٫۲۱ | ۱۰۷٫۱۷ | ۱۰۹٫۵۳ | -۰٫۷۲ |
| دبت | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | |
| مالی حساب | ۲۷٫۸۵ | ۵۸٫۹۷ | ۱۰٫۹۲ | -۱۴۷٫۵ | ۳۴۶٫۹۹ | ۱۰۰٫۴۲ | ۰٫۷ |
| مستقیمه پانګونه | -۶٫۲۸ | ۹٫۰۴ | -۱٫۵۵ | ۲٫۹۱ | -۰٫۴۳ | ۵٫۲۲ | -۰٫۴۲ |
| شتمنی | ۵٫۶۹ | ۴٫۸۶ | ۵٫۲۶ | ۶٫۱ | ۲٫۵۹ | ۱۰. | ۱٫۰۶ |
| پورونه (مسولیت) | ۱۱٫۹۷ | -۴٫۱۸ | ۶٫۸۱ | ۳٫۱۹ | ۳٫۰۲ | ۴٫۷۸ | -۲٫۱۴ |
| غیر مستقیمه پانګونه | ۱۵٫۴۲ | -۳۳٫۷۴ | ۲۰٫۱۶ | -۱۸٫۲ | ۴۱٫۱۹ | ۸۳٫۱۱ | -۳٫۴۶ |
| شتمنی | ۱۵٫۴۲ | -۳۳٫۷۴ | ۲۰٫۱۶ | -۱۸٫۲ | ۴۱٫۱۹ | ۸۳٫۱۱ | -۳٫۴۶ |
| پورونه (مسولیت) | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | |
| متفرقه پانګونه | -۹٫۴۲ | -۷۲٫۹۹ | ۱۲۴٫۲۶ | -۲۲٫۵۴ | -۲۹۰٫۹۳ | -۹٫۷۴ | -۰٫۸۷ |
| شتمنی | -۲۳٫۱۳ | -۱۷٫۸۶ | ۸۹٫۲۴ | -۳۸٫۲۲ | -۷۴٫۰۹ | -۰٫۲۴ | -۰٫۹۹ |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پورونه (مسولیت) | -۱۳,۷۱ | ۵۵,۱۴ | -۳۵,۰۲ | -۱۵,۶۷ | ۲۱۶,۸۴ | ۹,۵ | -۰,۸۳ |
| **شتمنیز زیرمی** | **۲۸,۱۳** | **۱۵۶,۶۶** | **-۱۳۱,۹۴** | **-۱۰۹,۶۷** | **۵۹۷,۱۶** | **۲۱,۸۴** | **-۰,۸۶** |
| **خالصه تیروتنی** | **۵۶۴,۵۹** | **۶۹۵,۷۹** | **۲۱۴,۵۹** | **۷۵۰,۷۲** | **۶۵۴,۱۵** | **۸۸۴,۴** | **۰,۲۷** |

## ۴. مالی سکتور

د مالي پالیسۍ اصلي موخه د عایداتو په راټولولو کې د دوامداره زیاتوالي راوړل دي،څو په تدریجي توګه، عادي او پرمختیایي لګښتونه چې له بهرنیو مرستو له لارې تمویلیږي،د بودجې تخصیص د افغانستان له ملي پرمختیایي ستراتیژۍ سره مطابقت پیدا کړي . سربیره پر دې، نورې موخې د عامه لګښتونو مدیریت ښه والی، د مالي پالیسي اصلاح کول، د مالی پالیسیو رامینځته کول، د شرکتونو، ګمرکاتو او د مالیې آغیزمنتوب او اداره کول دي.

د 1399 لمریز لیږدیز مالي کال له پیل څخه ټوله ملي بودجه 428.38 میلیارده افغانۍ وه خو د تیر مالي کال بیا (139۸) لمریز لیږدیز مالي کال 399.42 میلیارده افغانۍ وه، چې 28.96 میلیارده افغانۍ او یا د 7.25٪ ډیرښت څرګندوي . د1399 لمریز لیږدیز مالي کال عادي یا عملیاتي بودجه 289.10 میلیارده افغانۍ او پراختیایي بودجه بیا 139.28 میلیارده افغانۍ اټکل شوې ده .




سرچینه: د مالیې وزارت/د پولی سیاست د آمریت محاسبه

هیوادونه کولای شي چې د مالي کال په جریان کې په بودجه کې تغیر راولي او دا تغیر کله د تمویلوونکو له لوري د غیرې اختیاري مصارفو له کبله او یا هم د مالیې وزارت له لوری په بودجه کې کوم تغیر د کال په منځ کې راشي چې دا تغیر باید د ولسي جرګې له لوري تصویب شي او د مالیې وزارت باید پوره اسناد او دلایل وړاندي کړي.

لاندې جدول د ۲۰۲۰ زیږدیز کال تازه ارقام څرګندوي چې د همدې کال تر لیندۍ میاشتې پورې دي او کوم تغیر چې په کې دی د غیرې اختیاري مصارفو له کبله ده او د یادونې وړ ده چې تر اوسه د هېواد بودجه چې کوم تغیر باید په کې راشی د کابینه له لوري تصویب شوې ده.




د روان زیږدیز کال د وری میاشتی تر پای پوری ټوله بودجه 453.88 میلیاردو افغانیو ته لوړه شوې چې 298.27 میلیارده افغانۍ یې عملیاتي او 155.61 میلیارده افغانۍ یې پرمختیایی ده. د روان زیږدیز کال پیل څخه تر اوسه د ارقامو له مخې25.50اویا ٪5.95ډیرښت څر ګندوي او د تیر کال د همدې تاریخ (لمریز لیږدیز مالي کال لیندۍ میاشتې پای پورې) په پرتله 29.48 میلیارده افغانۍ ډیرښت څرګندوي.

ټول عواید (کورني عواید او بهرنۍ مرستې) د 1399 لیږدیز مالی کال له پیل څخه تر لیندۍ میاشتې پای پورې393.37 میلیارده افغانۍ ته رسیدلي ده، چې ده دي جملې څخه کورني عواید 173.68 میلیارده افغانۍ او بهرنیو مرستی 219.68 میلیارده افغانۍ ته رسیږي.

کورني عواید د لیندۍ په میاشت کې ډیرښت په نښه کوي، چې له 11.84 میلیارده افغانیو څخه د د لړم په میاشت کې تر25.58 میلیارده افغانۍ د لیندۍ میاشت کی. دا بدلون د 13.74 میلیارده افغانۍ او یا د٪116.08 ډیروالی څرګندوي.همدغه رنګ د لیندۍ په  میاشت کی په بهرنیو مرستو کی ډیروالی راغلی ده، چې ټوله بهرنۍ مرستی له 66.16 میلیارده افغانۍ په لیندۍ میاشت کې، همدارنګه 12.32 میلیارده افغانۍ د لړم په میاشت که رسیدلی دی . چې د 53.83 میلیـــارده افغانۍ او یا د٪ 436.77 ډیروالی څرګندوي.

په ورته وخت کې، ټول لګښتونه د 1399 لیږدیز مالي کال تر لیندۍ میاشتې پای پورې 433.84 میلیارده افغانیو ته رسېدلي دي چې له دې جملې څخه،چاري لګښتونه 273.52 میلیارده افغانۍ او پراختیايي لګښتونه 160.32 میلیارده افغانیو ته رسیږي.

چاری لګښتونه د لیندۍ په میاشت کی 43.41 میلیارده افغانی دی، چی د لړم په میاشت کی 21.61 میلیارده افغانی وی، دا بدلون د 21.80 میلیارد افغانی ٪100.90 ډیرښت په نښه کوی. همدا رنګه پراختیایی لګښتونه د لیندۍ په میاشت 54.33 میلیارده افغانی ته رسیدلی ده چی د لړم په میاشت کی 13.84 میلیارده افغانی وی چی د تله میاشتی په پرتله 40.49 میلیارده افغانی او یا د ٪292.61 ډیرښت څرګندوی.

| خانګړنه | د لړم میاشت او 1399 مالی کال | د لیندۍ میاشت او 1399 مالی کال | د 1399 مالی کال له پیل څخه د لیندۍ میاشتی پوری | توپیر ( د لړم او د لیندۍ میاشتو کې ) | میاشتني وده (٪) |
|---|---|---|---|---|---|
| | د افغانۍ شمیرنه په ملیاردونو | | | | |
| ټول عواید | 24.16 | 91.73 | 393.37 | 67.57 | 279.66% |
| کورنی عواید | 11.84 | 25.58 | 173.68 | 13.74 | 116.08% |
| بهرنی عواید | 12.32 | 66.16 | 219.68 | 53.83 | 436.77% |
| ټول لګښتونه | 35.45 | 97.74 | 433.84 | 62.29 | 175.73% |
| جاری لګښتونه | 21.61 | 43.41 | 273.52 | 21.80 | 100.90% |
| پراختیايي لګښتونه | 13.84 | 54.33 | 160.32 | 40.49 | 292.61% |

د اصلي بودجې د اجراء کول نرخ د 1399 لیږدیز مالي کال تر لیندۍ میاشت پای پورې ٪86 ته رسیدلی ده او همدارنګه دتیری لړم میاشتی بودجی نرخ٪ 70 وه چی د لړم میاشتی په پرتله د اجراء په نرخ کی ٪16 زیاتوالی څرګندوی.